د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي عمومي رياست

د طبيعي – تخنيکي علومو معينيت
رياست مرکز علوم طب

# د علمي – څېړنيز کنفرانس د مقالو غوښتنه

## په معاصر طبابت کې د نويو ټکنالوژيو ونډه

## نقش تکنالوژي های نوین در طبابت معاصر

## Role of Emerging Technologies in Modern Medicine

**اهميت او مبرميت :** په وروستيو لسيزو کې د طبابت ډګر د چټکو او پرله‌پسې ټکنالوژيکو بدلونونو شاهد پاتې شوی دی. مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence)، ډيجيټل روغتيا (Digital Health)، روبوټيک جراحي، جنيټيکي درملنې، نانو ټکنالوژي، روغتيايي معلوماتي سيستمونه، ځيرک او هوښيار روغتونونه د روغتيايي خدمتونو د کيفيت، لاسرسي، خونديتوب، دقت او اغېزناکتوب په لوړولو کې مهم رول لري.
له بلې خوا مخ پر ودې هېوادونو کې د دغو ټکنالوژيو اغېزناک تطبيق له تخنيکي، اقتصادي، حقوقي، اخلاقي او بنسټيزو ننګونو سره مل دی. له همدې امله، د دې علمي–څېړنيز کنفرانس موخه دا ده چې د معاصر طبابت په پرمختګ کې د نويو ټکنالوژيو علمي، څېړنيز، عملي او ستراتيژيک اړخونه وڅېړل شي او د افغانستان د روغتيايي نظام له پاره د تطبيق وړ علمي وړانديزونه وشي.

### د کنفرانس اهداف

- په طبابت کې د نويو ټکنالوژيو د علمي او عملي رول ارزونه.
- د روغتيايي سيستمونو د عصري کولو د عملي لارو چارو پېژندنه.
- د څېړونکو، علمي او روغتيايي بنسټونو ترمنځ د علمي همکارۍ پياوړتيا.
- د ټکنالوژۍ د اخلاقي، حقوقي، اقتصادي، تخنيکي او ټولنيزو اړخونو تحليل.
- د افغانستان له پاره د تطبيق وړ نوښتونو معرفي کول.
- د افغانستان په روغتيايي نظام کې د عصري طبي ټکنالوژي د موجوده وضعيت، اړتياوو، فرصتونو او ستونزو ارزول.
- د روغتيايي ټکنالوژيو په برخه کې د علمي بحث او ظرفيت لوړونې د زمينې برابرول.

**تمه کېدونکې پايلې**

- د افغانستان د روغتيايي نظام د عصري کولو له پاره، مسؤولو ادارو ته د پاليسۍ د اصلاح، پراختيا او تصميم نيونې په موخه سپارښتنې کېږي.
- علمي او څېړنيزې همکارۍ پياوړې کېږي.
- د راتلونکو څېړنيزو پروژو له پاره به نوي موضوع ګانې، لومړي توبونه او څېړنيز محورونه مشخص شي.
- د روغتيايي ټکنالوژيو په برخه کې د علمي بحث او ظرفيت لوړونې زمينه برابرېږي.
- د افغانستان د روغتيايي سکتور له پاره به د عصري طبي ټکنالوژيو د تطبيق، ساتنې، روزنې او معاصر استعمال علمي او عملي ليد لوری رامنځ ته شي.
- د کنفرانس د علمي مقالو ټولګه چاپېږي.

د اړيکې شمېرې: ۰۷۰۰۱۶۳۳۴۰، ۰۲۰۲۲۰۱۲۳۹ واټس اپ شمېره: ۰۷۷۷۶۷۹۰۸۸ ايميل: dr.Abdulraheem111@gmail.com

## د علمي- څېړنيز کنفرانس محورونه

**لومړی محور: مصنوعي ځيرکتيا او روغتيايي معلومات**

۱ -د ناروغيو په تشخيص کې د مصنوعي ځيرکتيا رول
۲ -په درمل جوړونه کې د مصنوعي ځيرکتيا کارونه
۳ -د مصنوعي ځيرکتيا له لارې د راديولوژيکو انځورونو تحليل
۴ -په طبابت کې د مصنوعي ځيرکتيا اخلاقي او حقوقي ننګونې
۵ -د عامې روغتيا په پياوړتيا کې د روغتيايي معلوماتو د زېرمو رول
٦ -د جنيتيک او روغتيايي معلوماتو په تحليل کې د بايوانفورماتيک کارونې
۷- د روغتيايي معلوماتو په خوندي ساتنه کې د بلاکچېن ټکنالوژۍ رول، د روغتيايي معلوماتو محرميت او اخلاقي ننګونې

**دويم محور: ډيجيټل روغتيا او روغتيايي سيستمونه**

۸ -په معاصر طبابت کې د ټيلي ميډيسن ارزښت او اغېزې
۹ -د ناروغانو په څارنه او درملنه کې د روغتيايي موبايل اپلېکېشنونو رول
۱۰ -له لرې واټن د ناروغانو د روغتيايي څارنې سيستمونه
۱۱ -د الکترونيکي روغتيايي ريکارډونو (EHR) ارزښت، ګټې او ننګونې
۱۲ -د ډيجيټل روغتيا راتلونکې
۱۳ -په روغتيايي خدمتونو کې د ځيرکو روغتونونو رول
۱۴ -د روغتيايي سيستم په مديريت کې د ټکنالوژۍ ونډه

**درېيم محور: طبابت او ټکنالوژي**

۱۵ -روبوټيک جراحي: ګټې، ننګونې او راتلونکې
۱٦ -د درې‌بعدي چاپ ټکنالوژي: په جراحي او مصنوعي غړو کې نوې پرمختياوې
۱۷ -په جراحي پلان جوړونه او عملياتونو کې د Augmented Reality ( AR ) ټکنالوژۍ کارونې
۱۸ -د ناروغانو په پالنه او روغتيايي خدمتونو کې د روغتيايي روبوټونو کارونې
۱۹ -په روغتونونو کې د اتومات سيستمونو رول
۲۰ -د اتومات لابراتواري سيستمونو پرمختګونه
۲۱ -په معاصر طبابت کې د ليزر ټکنالوژۍ کارونې

**څلورم محور: دقيق طبابت او نوې درملنې**

۲۲ -د ناروغيو په درملنه کې د جنيټيکي انجنيرۍ ونډه
۲۳ -د جنيټيک او معلوماتي ټکنالوژۍ پر بنسټ شخصي او دقيقه درملنه
۲۴ -په درمل جوړونه کې د نانو ټکنالوژۍ رول
۲۵ -د جينوميک او دقيق طبابت راتلونکې
۲٦ -د درملو په توليد کې د بايوټکنالوژۍ ارزښت
۲۷ -د سرطان په تشخيص او درملنه کې د عصري ټکنالوژيو رول

**پنځم محور: تشخيص، روزنه او راتلونکې**

۲۸ -په طبي زده‌کړه کې د مجازي واقعيت او سيموليشن ټکنالوژيو کارونې
۲۹ -د طبي اميجينګ ( MRI ، CT، Ultrasound او AI-based Imaging ) پرمختګونه
۳۰ -د ناروغانو په روغتيايي څارنه کې د ځيرکو نصبېدونکو وسايلو رول
۳۱ -د ډيجيټلي تشخيص نوې لارې او د ناروغيو په ژر پېژندنه کې يې اهميت
۳۲ -د وباګانو په کنټرول کې د ټکنالوژۍ رول

۳۳ -مخ پر ودي هېوادونو کې د طبي ټکنالوژيو ننګونې
۳۴ -په چاپېريال باندې د روغتيايي ټکنالوژيو اغېزې
۳۵ -د ناروغيو په تشخيص او درملنه کې د آسانه انتقال وړ طبي وسايلو رول
۳٦ -په افغانستان کې د عصري طبي ټکنالوژيو د کارونې وضعيت او راتلونکې اړتياوې

**شپږم محور: په ستوماتولوژي کې د نويو ټکنالوژيو کارونه**

۳۷ -په معاصره ستوماتولوژي کې د ډيجيټلي ټکنالوژيو رول
۳۸ -په ستوماتولوژي کې د ليزر د کارونې بررسي
۳۹ -د غاښونو په طبابت کې د درېبعدي چاپ ټکنالوژۍ رول
۴۰- استفاده از سيستم‌هاى CAD/CAM در ساخت پروتيز دندان در افغانستان
۴۱- په ستوماتولوژي کې د ډيجټلي سيستمونو تطبيق، فرصتونه او ننګونې
۴۲- د غاښونو په سپينولو کې د عصري ميتودونو ارزونه

**يادونه:** ليکوالان او څېړونکي کولای شي د کنفرانس له عمومي سرليک سره سم، په يادو شوو محورونو کې نورې اړوندې موضوعګانې هم په ازاد ډول وټاکي.

## د مقالو د لېږلو معيارونه او لارښوونې

- مقالې بايد په رسمي ډول د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبيعي ـــ تخنيکي علومو معاونيت، د طبي علومو مرکز رياست ته، او يا هم لاندې ذکر شوې برېښناليک پتې ته واستول شي.
- مقالې بايد علمي ـ څېړنيزې وي، مخکې په بل کنفرانس کې نه وي وړاندې شوې او په کوم ژورنال يا بلې سرچينې کې نه وي خپرې شوې. مقاله بايد لاندې برخې ولري: سرليک، لنډيز په پښتو يا دري او انګليسي ژبه کې شاوخوا ۲۰۰ کلمې، سريزه، د څېړنې اهميت او مبرميت، موخې، پوښتنې يا فرضيې، د څېړنې ميتود، پايله، وړانديزونه او ماخذونه.
- مقالې بايد د Microsoft Word په بڼه، د ژبې د ګرامري اصـــولو په رعايت، د دقيقې ماخذ ورکونې له معيارونو سره سم او په ۱۳ فونټ کې ترتيب شي. د مقالې د لېږلو پر مهال بايد د ليکوال بشپړ شـهرت، د اداري نوم، برېښـناليک او د اړيکې شمېره هم ورسره درج وي.

## مهمې نېټې

- د مقالو د لېږلو وروستۍ نېټه: ۱۴۰۵/۷/۳۰ هـ.ش.
- د کنفرانس د جوړېدو نېټه: ۱۴۰۵/۹/۱ هـ. ش.

## ګټې

- د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د معتبر تصديق‌ليک ورکول؛
- د کنفرانس د مقالو په ټولګه کې د منل شوو مقالو خپرول.

## له موږ سره اړيکه

- **پته:** د شاببو جان جومات ته څېرمه، شهرنو، کابل، افغانستان؛
- **د اړيکې شمېرې:** ۰۷۰۰۱٦۳۳۴۰، ۰۲۰۲۲۰۱۲۳۹؛
- **واټساپ:** ۰۷۷۷٦۷۹۰۸۸؛
- **برېښناليک:** dr.Abdulraheem111@gmail.com